# د افغانستان اسلامي امارت

# دارشاد، حج او اوقافو وزارت

# دمساجدو دارشاد او انسجام رياست

# دارشاد او دعوت آمریت

# دخطبو دتنظيم عمومي مديريت

---

**د جمعې دخطبې لاربنود مؤرخ: ۱۴۴۴/۱/۲۱هجری قمری مطابق:۱۴۰۱/۵/۲۸هجری شمسی**

## په اسلامي ټولنه کې دسوالګرۍ زيانونه

**الحمد لله على إحسانه، والشكر له على توفيقه وامتنانه، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، تعظيما لشأنه، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله، الداعي إلى رضوانه صلى الله وسلم وبارك عليه وعلى آله وصحبه وإخوانه وبعد.**

**قال الله سبحانه وتعالى:{ لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُحْصِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ لا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْباً فِي الأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاءَ مِنَ التَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُمْ بِسِيمَاهُمْ لا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافاً وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ} البقرة:(۲۷۳)**

**درنو هيوادوالو!**

د جلالتمآب امير المؤمنين شيخ الحديث مولوی هبة الله آخنداده (حفظه الله تعالی ورعاه) دفرمان په استناد او دارشاد، حج او اوقافو وزارت عاليقدر وزير شيخ الحديث دوکتور مولوی نورمحمد(ثاقب) (حفظه الله تعالی) دهدايت په اساس ددې جمعې دخطبې او وعظ لپاره ( په اسلامي ټولنه کې دسوالګرۍ زيانونه) موضوع انتخاب شوی ده، غواړو چې په دې موضوع کې له تاسو سره معلومات شريک کړو.

سوالګري عموماً دفقر او بې وسۍ څخه رامنځ ته کيږي. فقر او بې وسي داسې حالت نه دی چې څوک دې حتما سوالګرۍ ته مجبوره کړي؛ بلکې دا دکمزوري همت خاوندان دي چې دفقر له امله سوالګرۍ ته مخه کوي، هغوی چې دعالي همت خاوندان دي په صبراو تحمل وخت تيروي، کار او کسب ته مخه کوي.

دمسلمان صفت عفت او دسوالګرۍ څخه ځان ساتل دي.

په پورتني آيت کريمه کې الله جل جلاله د صابر فقير صفت کړی دی.

په پورتني آيت شريفه کې د(**لا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافاً**) څخه مراد داده چې دمؤمنانو صفت دادی چې دوی هيڅکله دخلکو څخه څه نه غواړي او د سوال څخه عفت يې ثابت صفت دی.[احکام القرآن للقرطبي]

د اسلامي شريعت په بې شميره نصوصو کې د هغه فقر او مسکينۍ صفت بيان شوی دی چې صبر او قناعت ورسره مل وي.

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (يَدْخُلُ فُقَرَاءُ المُسْلِمِينَ الجَنَّةَ قَبْلَ أَغْنِيَائِهِمْ بِنِصْفِ يَوْمٍ وَهُوَ خَمْسُمِائَةِ عَامٍ) قال الترمذي: هذا حديث حسن صحيح سنن الترمذي**

**ترجمه:** دابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: فقيران مسلمانان به جنت ته دخپلو غنيانو څخه نيمه ورځ مخکې جنت ته داخليږي چې هغه نيمه ورځ پنځه سوه کاله کيږي.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم ژوند زمونږ لپاره غوره نمونه ده. دهغه صلی الله عليه وسلم دژوند په باره کې ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها داسې فرمايي: **عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: (مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْذُ قَدِمَ المَدِينَةَ، مِنْ طَعَامِ بُرٍّ ثَلاَثَ لَيَالٍ تِبَاعًا، حَتَّى قُبِضَ) صحيح البخاري**

**ترجمه:** نه ده مړه شوی کورنۍ د رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه وخت نه چې مدينې منورې ته راغلي دي دغنمو په ډوډۍ باندې درې ورځې پرله پسې؛ آن ترهغې پورې چې وفات شو.

ددنيا ژوند مختصر دی؛ په کارده چې ددنيا مال او متاع د ضرورت په اندازه را ټوله شي او دذخيره کولو کوښښ يې نه دی په کار.

دعبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په پوزي باندې ويده ؤ کله چې له خوبه را ويښ شو پوزي يې په اړخ کې لارې جوړې کړې وې، مونږ ورته وويل: ای دالله رسوله! که کاش چې مونږ درته نرم فرش تيار کړو. رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: **(مَا لِي وَلِلدُّنْيَا، مَا أَنَا فِي الدُّنْيَا إِلَّا كَرَاكِبٍ اسْتَظَلَّ تَحْتَ شَجَرَةٍ ثُمَّ رَاحَ وَتَرَكَهَا) سنن الترمذي**

**ترجمه:** زما ددنيا سره محبت نشته او ددنيا له ماسره محبت نشته. نه يم زه په دنيا کې مگر په مثال دهغه په سپرلۍ سپور شخص (مسافر) چې د ونې دسيوري لاندې کيني او بيا ورڅخه روان شي او هغه ونه پريږدي.

دومره دنيا بس ده چې انسان حاجت او ضرورت ورباندې مرفوع وي او قناعت کول ورباندې په کاردی.

**عن عبد الله بن عَمْرو بنِ العاص رضي الله عنهما : أن رسول الله - صلى الله عليه وسلم - ، قَالَ : (قَدْ أفْلَحَ مَنْ أسْلَمَ ، وَكَانَ رِزْقُهُ كَفَافاً ، وَقَنَّعَهُ اللهُ بِمَا آتَاهُ) رواه مسلم .**

**ترجمه:** د عبدالله ابن عمرو ابن العاص رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: بيشکه کامياب دی هغه څوک چې خپل ځان خپل رب ته تسليم کړي او رزق يې په اندازه دحاجت او ضرورت وي او الله تعالی ورته په هغه څه باندې قناعت ورکړی وي چې هغه ورته ورکړي دي.

**عن أَبي محمدٍ فضَالَة بن عبيدٍ الأنصاريِّ - رضي الله عنه -: أنه سمع رسول الله - صلى الله عليه وسلم -، يقول : (طُوبَى لِمَنْ هُدِيَ لِلإِسْلاَمِ ، وَكَانَ عَيْشُهُ كَفَافاً وَقَنِعَ ) رواه الترمذي ، وقال :حديث حسن صحيح .**

**ترجمه:** دفضاله ابن عبيد انصاري رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايې چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې داسې يې وفرمايل: خوشحالي دې وي دهغه چالپاره چې د اسلام لوری ته هدايت شوی وي او ژوند يې په قدر دحاجت او ضرورت وي او قناعت وربانديې ولري.

غنا په مال سره نه ده؛ بلکې حقيقي غنا د نفس غنا ده. که وګورو دمال غنيان دفقيرانو په نسبت په مال پسې زياتې منډې وهي او هيڅ قناعت نه کوي؛ معلوميږي چې په مال باندې څوک نه غني کيږي.

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: (لَيْسَ الغِنَى عَنْ كَثْرَةِ العَرَضِ، وَلَكِنَّ الغِنَى غِنَى النَّفْسِ) صحيح البخاري**

**ترجمه:** غنا په زياتو مالونو باندې نه ده؛ بلکې حقيقي غنا دنفس ده.

د دينار او درهم بندګان جوړيدل په کار نه دي ؛ بلکې په هرحالت کې د الله تعالى په فيصلو راضي کيدل په کار دي. د مال غنيان په مال ازمايل کيږي او فقيران په فقر سره ازمايل کيږي؛ په کارده چې په ناداری باندې صبر وکړو.

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (تَعِسَ عَبْدُ الدِّينَارِ، وَالدِّرْهَمِ، وَالقَطِيفَةِ، وَالخَمِيصَةِ، إِنْ أُعْطِيَ رَضِيَ، وَإِنْ لَمْ يُعْطَ لَمْ يَرْضَ). صحيح البخاري .**

**ترجمه:** هلاک دې شي ددينار بنده ، د درهم بنده، د لباس بنده او دڅادر بنده، که چيرې ورته ورکړل شي خوشحاله وي دالله جل جلاله څخه او که ورته ور نه کړل شي، بيا راضی نوي دالله جل جلاله څخه.

دنيا دالله تعالى په نزد هيڅ ارزښت نلري؛ که چيرې دنيا دالله تعالى په نزد ارزښت درلودلی کفارو ته به يې هيڅ نه وه ورکړی.

**عن سهل بن سعد - رضي الله عنه - :قال : قال رسول الله -صلى الله عليه وسلم- :(لو كَانت الدُّنيا تَعْدِلُ عند الله جَنَاحَ بَعُوضَةٍ ما سقَى كافرا منها شَرْبَة ماء). سنن الترمذي.**

**ترجمه:** که چيرې دنيا دالله تعالى په نزد د ماشي د وزر سره برابره وای (يعنی که چيرې دماشي د وزر په اندازه ارزښت يې درلودلی)، نه به يې ورکړی وه کافر ته ددنيا څخه يو ګوټ اوبه.

په دنيا کې فقر دومره خطرناک نه دی لکه څومره چې ثروت او مالداري خطرناکه ده.

الله تعالى فرمايلي دي: **{وَاعْلَمُواْ أَنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلاَدُكُمْ فِتْنَةٌ وَأَنَّ اللّهَ عِندَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ} الانفال:(۲۸)**

**ترجمه:** او پوهه شئ، بيشکه ستاسو مالونه او ستاسو اولادونه فتنه (امتحان)ده او بيشکه الله تعالى، د هغه په نزد اجر دی لوی.

**عن عمرو بن عوف الأنصاري - رضي الله عنه – قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:( فَوَاللهِ لاَ الْفَقْرَ أَخْشى عَلَيْكُمْ، وَلكِنْ أَخْشى عَلَيْكُمْ أَنْ تُبْسَطَ عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا كَمَا بُسِطَتْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبلَكُمْ، فَتَنَافَسُوهَا كَمَا تَنَافَسُوهَا، وَتُهْلِكَكُمْ كَمَا أَهْلَكَتْهُمْ)**. متفق عليه

**ترجمه:** قسم په الله چې د فقر نه پر تاسو نه ویریږم ؛ زه په تاسو ددې نه ویریږم چې دنیا به درته پراخه شي لکه څرنګه چې په هغوخلکو پراخه شوی وه چې ستاسو څخه مخکې ؤ، بیا به تاسو په کې رغبت واخلی لکه څرنګه چې هغوی په کې رغبت اخیستی ؤ او تاسو به هلاک کړي لکه څرنګه چې یې هغوی هلاک کړي ؤ.

عبدالله ابن عمر رضي الله عنه فرمایې: (**لا يصيب عبد من الدنيا شيئا إلا نقص من درجاته عند الله وإن كان عليه كريما**) **صحيح الترغيب والترهيب** بسند جيد.

**ترجمه:** هیڅ بنده ته ددنیا څخه څه شی نه رسیږي؛ مګر داچې دالله تعالی په نزد یې درجه کمیږي ولو که په الله تعالی ګران هم وي.

**د سوالګرۍ مذمت:**

سوالګري ډیره بده پدیده ده، سوالګر د ټولنې حیثیت ته زیان رسوي او دټولنې رنګ بدوي.

سوالګر په سوال کولو سره خپل ځان ذلیلوي، هغه کار چې اسلام ورڅخه منع فرمایلې ده.

الله جل جلاله عزت من دی، دهغه رسول عزت من دی او دهغه مؤمن بندګان عزت من دي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (**لَا يَنْبَغِي لِلْمُؤْمِنِ أَنْ يُذِلَّ نَفْسَهُ**) **أخرجه الترمذي.**

**ژباړه:** مناسب نه ده مسلمان ته چې ځان ذلیل او خوار کړي.

داسلام مقدس دین دانساني کرامت په ساتلو ټینګار کړی او په دې یې امر کړی دی چې انسان او مسلمان باید خپل نفس د ذلت، سپکاوۍ او دهر هغه کار څخه ځان وساتي چې دده انساني کرامت ته په کې سپکاوی کیږي او همدې اصل ته په کتو سره یې سوالګري حرامه ګرځولی ده، ځکه چې سوالګري دانساني کرامت منافي عمل دی.الله جل جلاله فرمایلي دي: (**وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ**) **الإسراء:۱۷.**

**ترجمه:** او یقینا چې مونږ عزت ورکړی دی بني آدم ته.

سوالګري دانسان آخرت خرابوي او په آخرت کې به هم سوالګر شخص ذلیله وي.

**رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي د:(مَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَسْأَلُ النَّاسَ، حَتَّى يَأْتِيَ يَوْمَ القِيَامَةِ لَيْسَ فِي وَجْهِهِ مُزْعَةُ لَحْمٍ). متفق عليه**

**ترجمه:** سړی به دخلکو څخه سوالګري کوي، آن تردې چې په آخرت کې به په داسې حال کې راشي چې په مخ باندې به يي دغوښې ټوټه نه وي.

ددې حديث په شرح کې امام نووي رحمه الله ليکلي دي: سوالګر به د آخرت په ورځ کې په داسې حال کې راشي چې ذليله به وي او له الله تعالى سره به يي هيڅ قدر نه وي او يا داچې ددې څخه حقيقي معنامرادده او مخ به يي يوازې هډوکي وي او غوښه به ورباندې نه وي.[شرح النووي]

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ (صلى الله عليه وسلم): (مَنْ سَأَلَ النَّاسَ أَمْوَالَهُمْ تَكَثُّرًا فَإِنَّمَا يَسْأَلُ جَمْرًا ، فَلْيَسْتَقِلَّ أَوْ لِيَسْتَكْثِرْ ). صحيح مسلم**

**ترجمه:** دابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې دخلکو څخه دهغوی مالونه په سوال غواړي په دې موخه چې مال يي زيات شي، بيشکه داسې شخص د اور دسکروټې سوال کوي ( د سوالګر خوښه ده) چې يا خو دې کمې کړي او يا دې زيات کړي.

په يو بل حديث شريف کې راځي: د عوف بن مالك اشجعي رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي چې مونږ ته رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: آيا تاسو دالله تعالى درسول -صلى الله عليه وسلم- سره بيعت نه کوی؟ مونږ ورته وويل: مونږ درسره بيعت کړی دی ای دالله رسوله! او مونږ نوی دپيغمبرعليه السلام سره بيعت کړی ؤ. پيغمبر عليه السلام بيا وفرمايل: آيا تاسو دالله تعالى درسول –صلى الله عليه وسلم – سره بيعت نه کوی ؟ مونږ خپل لاسونه خواره کړل او عرض مو وکړ: مونږ درسره بيعت کړی دی په کوم شي درسره بيعت وکړو ای دالله تعالى رسوله ؟ پيغمبر عليه السلام وفرمايل:( **عَلَى أَنْ تَعْبُدُوا اللهَ وَلاَ تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئاً ، وَالصَّلَوَاتِ الخَمْسِ وَتُطِيعُوا الله ) وأَسَرَّ كَلِمَةً خَفِيفَةً (وَلاَ تَسْأَلُوا النَّاسَ شَيْئاً ) صحيح مسلم**

**ترجمه:** په دې خبره راسره بيعت وکړئ چې دالله تعالى عبادت به کوئ او شريک به ورسره نه نيسئ او پنځه وخته لمونځ به کوئ او دالله تعالى اطاعت به کوئ . بيا هغه په کلاره آواز سره وويل: او دخلکو څخه هيڅ شی مه غواړئ.

د اسلام مبارک دين دخپل حاجت او اړتيا دپوره کولو لپاره انسانان کار او کسب ته هڅولي او وربللي دي؛ ترڅو خلک دخپلو اړتيا پوره کولو لپاره سوالګری ته مخه نه کړي.

په حديث شريف کې راځي: **عَنْ ابي هريرة قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ( صلى الله عليه وسلم ) يَقُولُ : (لأَنْ يَغْدُوَ أَحَدُكُمْ فَيَحْطِبَ عَلَى ظَهْرِهِ فَيَتَصَدَّقَ بِهِ وَيَسْتَغْنِيَ بِهِ مِنَ النَّاسِ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَسْأَلَ رَجُلاً أَعْطَاهُ أَوْ مَنَعَهُ ذَلِكَ ، فَإِنَّ الْيَدَ الْعُلْيَا أَفْضَلُ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى) متفق عليه**

**ترجمه:** له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: داچې په صبايي کې يو څوک له تاسو څخه لاړشي او لرګي راټول کړي او په ملا باندې يي راوړي او بيايي خرڅ کړي صدقه يې کړي

او له خلکو څخه ورباندې ځان مستغني کړي دا کار ددې څخه غوره دی چې له یو سړي څخه سوال وکړي یا به یې ورته ورکړي او یابه یې ورنه کړي، ځکه اوچت لاس( خیرات ورکوونکی ) بهتره دی دټیټ لاس (خیرات اخیستونکي) څخه.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: (**مَا أَكَلَ أَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ، وَإِنَّ نَبِيَّ اللَّهِ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ، كَانَ يَأْكُلُ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ**) **صحيح البخاري .**

**ترجمه:** نه دی خوړلی هیچا داسې طعام چې هغه دی دده دخپل لاس ګټلي طعام څخه غوره وي او داود علیه السلام به دخپل لاس ګټلي مال څخه خوراک کاوه.

همدا راز داسلام مقدس دین دهغه چا لپاره سوال کول حرام ګرځولی دی چې روغ رمټ وي دکار او کسب توان ولري او بیاهم سوالګري کوي.

په حدیث شریف کې راځی: **عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:** (**مَنْ سَأَلَ النَّاسَ وَلَهُ مَا يُغْنِيهِ جَاءَ يَوْمَ القِيَامَةِ وَمَسْأَلَتُهُ فِي وَجْهِهِ خُمُوشٌ، أَوْ خُدُوشٌ، أَوْ كُدُوحٌ**) **سنن الترمذي**

**ترجمه:** د عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: چاچې دخلکو څخه سوال وکړ او له ده سره دومره رزق موجود ؤ چې ضرورت یې ورباندې رفع کیدو، دقیامت په ورځ به راشي او سوالګري به یې په مخ کې شوکارې او یا دچیچلو په څیر داغونه وي. (د روای شک دی) حنفي فقهاء وایي: د چا په کور کې چې د غرمې اوماښام خوراک وي ددغه وختونو دخوراک لپاره سوالګري ورته حرامه ده. [التبيين]

داسلام مبارک دین دسوالګرۍ مخه نیولې ده، همدا وجه ده چې روغ سالم او په کسب قادر انسان ته سوالګري جواز نلري. روغ او سالم چې دکسب څښتن وي، داسې شخص ته حتی دزکات مال ورکول په کار نه دي؛ ترڅو په سوالګرۍ اموخته نه شي.[حاشية السندي على ابن ماجه]

**عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ :(لاَ تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ وَلاَ لِذِى مِرَّةٍ سَوِيٍّ). سنن أبى داود والترمذي**

**ترجمه:** دعبدالله ابن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه فرمایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: حلال نه ده ورکول غني شخص ته د زکات مال او په کار نه ده ورکول دزکات مال هغه شخص ته چې په کسب قدرت ولري او بدن یې روغ او سالم وي.

په يو حديث کې راځي چې يو ځل رسول الله صلى الله عليه وسلم د زکات مال تقسيمولو، دوه کسانو ور څخه د زکات مال وغوښتلو، پيغمبر عليه السلام ورته چې وکتل وه ليدل چې هغوى ښه قوي کسان ؤ ورته يې وفرمايل:(**فَقَالَ إِنْ شِئْتُمَا أَعْطَيْتُكُمَا وَلاَ حَظَّ فِيهَا لِغَنِيٍّ وَلاَ لِقَوِيٍّ مُكْتَسِبٍ**) **مسنداحمد، ابوداوود ، النسائي.**

**ترجمه:** که ستاسو خوښه وي زه به يې درته درکړم خو په دې زکات کې د غني لپاره او د قوي کسب گر لپاره برخه نشته.

امام سرخسي رحمه الله ليکلي دي:(وإن كان المحتاج بحيث يقدر على التكسب فعليه أن يكتسب ولا يحل له أن يسأل). [الكسب والمحيط]

**ترجمه:** او که چيرې محتاج شخص داسې څوک ؤ چې دکسب توان يي درلود، په داسې شخص لازم دي چې کسب وکړي او سوالگري ورته جواز نلري.

رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلو اصحابو ته داسې تربيت ورکړی ؤ چې دهغوى څخه به قمچينه ولويده هغوى به چاته نه ويل چې دا قمچينه راته راپورته کړه؛ بلکې خپله به د سپرلی څخه را ښکته کيدل او قمچينه به يې په خپله را ا خيستله.

البته که څوک اړمن وي او دفقر له لاسه دې ته اړشو چې دخلکو څخه څه وغواړي دا جائز ده چې دخپل حاجت په اندازه د اړتيا وړ جنس وغواړي؛ ولو که نه غوښتل اولی خبره ده؛ خو دا کار هيڅکله جواز نلري چې سوالگري خپل کسب وگرځوي.

**عن أَبي بِشْرٍ قَبيصَةَ بنِ المُخَارِقِ - رضي الله عنه - ، قال قال رسول الله –صلى الله عليه وسلم: يَا قَبيصةُ ، إنَّ المَسْأَلَةَ لاَ تَحِلُّ إِلاَّ لأَحَدِ ثلاثَةٍ : رَجُلٌ تحمَّلَ حَمَالَةً ، فَحلَّتْ لَهُ المَسْأَلَةُ حَتَّى يُصِيبَها ، ثُمَّ يُمْسِكُ ، وَرَجُلٌ أَصَابَتْهُ جَائِحَةٌ اجْتَاحَتْ مَالَهُ ، فَحَلَّتْ لَهُ الْمَسْأَلَةُ حَتَّى يُصِيبَ قواماً مِنْ عَيش - أَوْ قَالَ : سِدَاداً مِنْ عَيْشٍ - وَرَجُلٌ أَصَابَتْهُ فَاقَةٌ ، حَتَّى يَقُولَ ثَلاَثَةٌ مِنْ ذَوِي الحِجَى مِنْ قَوْمِهِ : لَقَدْ أَصَابَتْ فُلاناً فَاقَةٌ . فَحلَّتْ لَهُ الْمَسْأَلَةُ حَتَّى يصيب قواماً من عيش ، أَوْ قَالَ : سداداً من عيشِ ، فما سِوَاهُنَّ مِنَ المسأَلَةِ يَا قَبِيصَةُ سُحْتٌ ، يَأْكُلُهَا صَاحِبُهَا سُحْتاً** ) **رواه مسلم .**

**ترجمه:** د قبيصه بن مخارق رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه فرمايي ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ای قبيصه! سوالگري پرته د درې کسانو څخه بل چا ته جائز نه ده. يو هغه کس چې د صلحې لپاره قرض وکړي داسې شخص ته جائز ده چې ددغه قرض دپوره کولو لپاره دخلکو څخه مال راټول کړي؛ ترڅو چې هغه قرض اداکړي او بيا به د خلکو څخه دمال دغوښتلو څخه لاس اخلي. بل هغه شخص دی چې مصيبت ورته رسيدلی وي او مال يي دکوم آفت په وجه له منځه تللی وي؛ ترهغې پورې ورته سوال کول جائز دي؛ ترهغې پورې چې د ژوند ضروري اړتياؤ ته لاس رسی وومومي او يا پوره کړي دژوند ضرورتونه – دراوي شک دی- او بل هغه سړی چې هغه ته ولږه ورسيږي او په خپل قوم کې مشهور شي تردې پورې چې دده دقوم درې علقمندکسان ووايي يقيناً فلاني شخص ته فقر رسيدلی دی داسې شخص ته سوال کول ترهغې پورې جائز دی ؛ تر هغې پورې چې دژوند ضروري شيانو ته لاس رسی وومومي او يا پوره کړي دژوند ضرورتونه – دراوي شک دی-، پرته له دې درې اقسامو څخه سوالگري حرامه ده او سوالگر ته حرام ده خوړل دحرامو .

دحديثو شارحين او فقهای کرام وايي سوالګري په درې ډوله ده:

١- حرامه سوالګري؛ ٢-مکروه سوالګري؛٣-مباح سوالګري.

١- حرام سوالګري هغه ده چې غني يي کوي او يا داچې دخپل فقر دحد څخه زياته ښکاره کوي .

٢- مکروه سوالګري هغه ده چې په کورکې يې دومره څه موجودوي چې ګزاره يي ورباندې کيږي خو ددې سره هم سوالګري کوي او د خپل فقر حقيقي شکل نه ښکاره کوي.

٣- مباح سوالګري هغه ده چې محتاج وي؛ خو که چيرې ضرورت ولري او دحواسو يا کومې عضوی دتلف ويره په کې وي په دې حالت کې سوال غوښتل دومره واجب ده چې ځان پری دخطر څخه خلاص کړي. [عمدة القاري]

امام غزالي رحمه الله فرمايي: په اصل کې سوالګري حرامه ده؛ البته د ضرورت په بناء جواز لري او حراموالی يي؛ ځکه اصلي حالت دی چې سوالګري د لاندې درې خبرو څخه هيڅکله خالي نه وي:

**لومړی:** داچې په سوالګرۍ کې د الله تعالی څخه دشکايت اظهار دی؛ ځکه په سوالګرۍ کې دفقر اظهار وي او دالله تعالی دنعمت دنه شتون اظهار وي چې دا بعينِهِ دشکايت اظهار دی.

**دوهم:** په سوالګرۍ کې سوالګر خپل ځان غيرالله ته عاجزي کوي او دمؤمن لپاره نه ښايي چې غيرالله ته عاجزي وکړي؛ بلکې ده لره په کار ده چې خپل خالق ته عاجزي وکړي چې په دې کار کې دمؤمن عزت دی او نور مخلوق دده په شان عاجزه دي، په کار نه ده چې عاجزانو ته خپله عاجزي اوذلت وړاندې کړي ؛ مګر دضرورت په وخت کې.

**دريم:** په سوالګرۍ کې د مسئول شخص اذيت او تکليف حتمي وي؛ځکه اکثره وخت هغه د خپل زړه نه څه نه ورکوي؛ ياخو دسوالګر څخه دحياء په وجه يي ورکوي او يا يي درياء لپاره ور کوي چې په دې صورت کې سوالګر ته دداسې صدقې اخيستل حرام دي او که چيرې صدقه منع کوي ورته حيا ورځي او قلباً اذيت کيږي؛ ځکه فکر کوي چې دبخيلانو له جملې څخه نه شي نو که چيرې مال خرچه کوي په دې سره يې مال مصرفيږي او که صدقه منع کوي، په دې کې يي دمقام نقصان دی چې په دې دواړو صورتونو کې اذيت ورته دسوالګر له جانبه رسيږي او اذيت رسول حرام کار دی؛ مګر د ضرورت په اساس.[ احياء علوم الدين]

علامه شبيراحمد عثماني رحمه الله ليکلي دي: زمونږ اصحاب دهغه چا په باره کې چې په کسب او کار قادر وي او بيا هم سوالګري کوي دوه ډوله مختلف اقوال لري:

لومړی او اصح قول دادی؛ چې داسې شخص ته سوال غوښتل حرام دی داحاديثو دظاهر په بناء.

دوهم قول دادی چې داسې شخص ته سوال کول حلال دي سره دکراهيته په درې شرطونو سره :

الف:سوال کول به دده د ذلت سبب نه وي.

ب:په سوال کې به مبالغه او الحاح نه کوي.

ج: چانه چې سوال غواړي هغه ته به په سوال غوښتلو کې اذیت او ضرر نه رسوي.

که چیرې په دغو شرطونو کې کوم شرط منتفي ؤ بیا سوالګري په اتفاق دعلماؤ سره حرام ده.[فتح الملهم بشرح صحیح مسلم]

**دسوالګرو ډولونه :**

سوالګري هغه مرض دی چې په ټولو زمانو ، په ټولو هیوادونو او ملتونو کې شتون لري او هیڅ هیواد دسوالګرو له شتون څخه مستثنی نه دی.

سوالګر قسم قسم خلك وي ځینې سوالګر ځوانان وي او په مختلفو بهانو له خلکو سوال غواړي ؛ خو ځینې نور یې بیا بوډاګان او بوډۍ ګانې ښځې وي.

اکثره وخت معیوب او مریضان سوال غواړي، خو ځینې وخت صحت مند خلك هم سوال کوي.

نن صبا زمونږ په هیواد کې زنانه او ماشومان سوالګر زیات دي چې په دوی کې دانجونو شمیره زیاته ترسترګو کیږي.

**دسوالګری بڼې:**

سوالګر سوالګري په مختلفو بڼو او شکلونو سره کوي ځینې یې په ښکاره دخلکو پیسې غواړي او دسوال په ځایونو کې ناست وي او ځینې نور یې په خلکو ګرځي او سوال غواړي.

ځینې وخت سوالګر ځانونه مریض او معیوب ښکاره کوي؛ خپلې پښې او یا لاسونه یې تړلي وي، یایې سترګه تړلې وي؛ ترڅو خلکو ته ځان معیوب او زخمي ښکاره کړي.

ځینې خلك ماشومان او زنانه له ځانه سره سوال کولو ته راباسي او دهغوی په وسیله سوال غواړي.

په ځینو وختونو کې ماشومانو ته مخدره مواد تزریقوي او یا یې په خوراك کې ورکوي او هغوی بې هوشه کوي او په لارو او پیاده رووںو کې یې اچوي ترڅو دخلکو زړونه وربانديې وسوزي.

ځینې وخت سوالګر دکار او کسب وسائل لاروو او پیاده رووںو ته له ځانه سره باسي او داسې ښکاره کوي چې دکار دنه شتون له امله یې سوالګرۍ ته مخه کړی ده.

ځينې کسان په مسجدونو کې سوال کوي، ځينې نور بيا دخلکو کورونو ته ورځي او ورڅخه سوال غواړي.

ځينې خلك له ځانه سره دډاکټرانو جعلي اسناد گرځوي او د مريضې په بهانه سوالگري کوي.

**د سوالگرۍ فردي زيانونه:**

۱- سوالگري په دنيا او آخرت کې د ذلت ، سپکاوی او د خوارۍ سبب دی.

۲- سوالگري بيکاره او سپک عمل دی او دټيټ فطرته خلکو کاردی، سالم او کامل فطرت ورڅخه ځان ساتي.

۳- په آخرت کې زيات وعيد او عذاب لري.
۴- سوالگري دنفس په ټيټوالي او حقارت دلالت کوي.
۵- سوالگري په ټولنه کې ټيټوالی او انحطاط رامنځ ته کوي.
٦- سوالگري دمال څخه برکت له منځه وړي.
۷- سوالگري ددعاء دنه قبليدو سبب دی.
۸- سوالگري دبدې خاتمې دليل **دی.**
۹- په سوالگرۍ سره په انسان کې دعدم قناعت خصلت رامنځ ته کيږي.
۱۰- په سوالگرۍ کې دالله تعالی څخه شکايت پروت دی.
**د سوالگرۍ ټولنيز زيانونه:**

سوالگري په ټولنه کې خطرناکه کړنه ده چې ډيرې ډول ډول نفسي، ټولنيز او صحي بدې پايلې لري.

د هر څه نه لومړی سوالگر داسلامي ټولنې بد انځور نورو ټولنو او خلکو ته وړاندې کوي.

- سوالگر ته تل دنور خلکو له خوا بد الفاظ استعماليږي چې په دې سره دسوالگر ته نفسي تکليفونه پيداکيږي.

- سوالگر تل د ټولنېز ژوند څخه په فاصله کې اوسيږي او دټولنې سره يې يو ډول کينه په زړه کې پرته وي.

- سوالگر تل دعدم احترام احساس کوي او په خپل ځان يې تکيا کمه وي.

- د سوالگرۍ د کسب له امله او داچې سوالگر تل دهر ډول خلکو سرهويني او ملاقات کوي چې دنورو خلکو څخه ورته ډول ډول مرضونه انتقالوي او دوی هم تل دمرضونو ښکاروي؛ ځکه دسوالگر خوراک او څښاك ناپاکه وي او خپلې حفظ الصحې ته متوجه نه وي او په خوراك او څښاك کې نظافت ته پاملرنه نه کوي چې اکثره وخت په ډول ډول مرضونو اخته کيږي،لکه دمعدې مرض ، دستوني مرض، د سل مرض،روماتيزم، دسترگو او پوستکي مرضونه. دهغه مرضونو له جملې څخه چې سوالگر ورسره لاس او گريوان وي دمرض په مقابل کې د وجود دمدافعت کمزوري ده.

سوالګر ماشومان چې دلمر دوړانګې یې وهي او مریضان کیږي او د ژمي په یخ موسم کې په تنفسي مرضونو اخته کیږي. زیاتره وخت هغه ماشومان هلکان او انجونې چې په بازارونو کې سوال کوي دظالمانو او بې باکه خلکو له خوا دمختلفو غرضونو لپاره اختطاف کیږي چې له یوې خوا ورباندې ظلم او تیری کیږي او له بل پلوه دټولنې امنیت ګواښل کیږي.

همدا راز سوالګري د ماشومانو په نفسیاتو باندې بده اغیزه کوي؛ ځکه ماشوم د وړکوالي څخه خپل کرامت او عزت النفس له لاسه ورکوي او بیا هیڅکله دخپل شخصیت په جوړولو باندې قادر نه وي او چې کله لوی شي په ټولنه کې ایجابي او مثبت رول نه لري.

سوالګر ماشومان تل د نورو له خوا رټل کیږي، توهینیږي او ورته سپکې سپورې ویل کیږي چې دا دهغوی په زړونو کې یو ډول دښمني راټوکوي او چې کله لوی شي هیڅ ډول مثبت احساس نلري؛ بلکې دټولنې دخلکو څخه دغچ اخیستنې په فکر کې وي. په اکثرو حالاتو کې سوالګر ماشومان دموټرو دحوادثو سره مخ کیږي. سوالګر ماشومان ددرس او مدرسې څخه محروم وي او نه شي کولای چې درس ووایي او زمینه ددرس ورته مساعده نه وي چې دسوالګرۍ له امله دعلم او زدکړې څخه بې برخې پاتې وي.

په ټولنه کې داخلاقي انحراف او فساد له سببونو څخه یو هم سوالګري ده.

په سوالګرو ماشومانو، زنانه ؤ او انجونو کې اخلاقي انحراف او فساد اکثره وخت د سوال له امله رامنځ ته کیږي؛ لکه زنا، سګریټ څکل، د مخدره او نشه یي توکو استعمال، غلا، او نورې جرمي کړنې.

همداراز دنورو لپاره استخباراتي فعالیتونه هم د سوالګرۍ له لارې ترسره کیږي او دامنیتي ارګانونو ته دمستحق سوالګر او مخبر ترمنځ توپیر ګران وي.

د سوالګرۍ څخه اسلامي ټولنې ته ډول ډول زیانونه اوړي؛ لکه:

- غیراخلاقي اعمال یا اخلاقي فسادونه چې په دې سره په ټولنه کې داخلاقي فساد ګراف لوړیږي او داسلامي ټولنې لپاره لوی خطر دی.
- په عامه ځایونو کې دبیکارانو زیاتوالی؛ اکثره سوالګر دخوب او راحت اخیستلو لپاره پارکونو، باغچو او چمنو ته ورځي چې په دې سره په عامه ځایونو کې دبیکارانو شمیر زیاتیږي.
- د کورنۍ څخه لرې والی؛ اکثره سوالګر دپیسو په راټولو کې مصروف وي او دخپلې کورنۍ سره یې علاقه کمه وي او دټولنیزو کارونو په باره کې بې تفاوته وي چې په دې کار سره ټولنه د انحلال خواته ځي.
- په ټولنه کې جرائم زیاتیږي او دمخدره موادو پیر او پلور زیاتیږي؛ دسوالګرو هدف دمال راټولول وي او ددې پروا نه کوي چې حلال وي او که حرام. همدا وجه ده چې سوالګر زیاتره وخت په غلاؤ لاس پورې کوي او نور جرومونه هم کوي چې دهغو له جملې څخه دمخدره موادو پیر او پلور دی، دمخدره موادو خرڅوونکي دسوالګرو له لارې خپل مخدره مواد خرڅوي.
- داچې دسوالګر دخلکو سره ویني او ملاقاتونه کوي دمرضونو په انتقال کې هم نقش لري.

- سوالگر تل نورو خلکو ته مزاحمت کوي او دخلکو دآذیت سبب گرځي.
- سوالگر خلکو ته دهیواد بد انځور وړاندې کوي؛ هغه داسې چې په کوم ملك کې سوالگر زیات وي ددې معنا داده چې هلته دبیکارانوکچه زیاته ده ، هلته فقر حاکم دی، هلته کاري فرصوتونه نشته او داسې نور.
- په سوالگری کې دنورو څخه په اسانه مال ترلاسه کول دي؛ چې په دې سره دتنبلی او تنبلانو کچه زیاتیږي او دغه بدې پدیدې ته دنورو دتشویق لامل گرځي او دزحمت او کارکولو روحیه په خلکو کې کمزوری کیږي چې دا کار دهیواد په اقتصادي وده باندې بد تأثیر اچوي.
- د بې امنی زیاتوالی؛ دسوالگرو دفقر او تنبلی له امله داخلي او خارجي مفسدین دسوالگرو څخه دتخریبي اعمالو او کړنو په ترسره کولو کې استفاده کوي او په هیواد کې دبې امنی گراف لوړیږي.

مونږ ته چې الله تعالی دجهاد له برکته آزادي را په برخه کړه او یو آزاد او خپلواك ولس یو نه غواړو چې د ذلت لاس نورو ته ونیسو او خیرات ورڅخه وغواړو؛ بلکې له څرنگه چې مو دجهاد په سختو شرائطو کې په ولږه او تنده صبر کولو اوس هم په هرحالت دالله تعالی څخه راضي یو.

زمونږ لپاره دا بسنه کوي چې الله تعالی فتح او آزادي را په برخه کړه او ددې امید لرو چې پراخه رزق او روزي به هم راکړي.

مونږ دالله تعالی څخه ددې امید لرو چې زمونږ ولس ته به پردو دچندو نه بغیر پراخه رزق ورکوي.

داچې سوالگري شرعا، عقلا ناوړه کار دی، ناداري او فقر دصبر او تحمل سره غوره عمل دی.

بناءً دافغانستان اسلامي امارت دا نه غواړي چې له نړیوالو خیرات طلب کړي او هیواد یې په نړی کې په سوالگری وپیژندل شي او دخپلو اتباعو څخه هم دا غواړي چې په روانو حالاتو صبر وکړي او ددې کوښښ دې نه کوي چې د ذلت لاس نورو خلکو ته اوږد کړي چې یا به دمنت سره خیرات ورکړي او یا به یې رد کړي د ذلت سره.

دامریکا او نورو اشغالگرو څخه دافغانستان دآزادی دلومړی کلیزې په مناسبت دفتحې او آزادی مبارکي ټولو دحق دلارې مجاهدینو او غیور ملت ته وایو. الله تعالی دې وکړي چې خپل آزاد، خپلواك او مستغني هیواد ولرو.

**أستغفر الله لي ولكم ولسائر المسلمين من كل ذنب، فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم.**